**د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د آریانا ګربت ودانیز شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کیږي، چې د افغانستان بانک غواړي څو د دې بانک د معلوماتی تکنالوژی لوی آمریت د سرور روم او سوئیچ روم پارتیشن د جوړولو قرارداد د آریانا ګربت ودانیز شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 23532 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې په کمپنی، د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه **(487,640)** څلورسوه اته اویا زره او شپږ سوه اوڅلويښت افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به قرارداد منعقد نه شي.

پورتني مراتب وړاندې شول، مهرباني وکړئ د اعلان له خپرېدو وروسته یې د اخبار کټنګ د راتلونکو پړاوونو د ترسره کولو لپاره دې مدیریت ته واستوئ.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 0093(20)2100305/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت www.dab.gov.af